د افغـــــــــانستان اسلامي امارت
د کـــډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت
مـــــــــالي او اداري معينيت
د اطـــــــلاعاتو او عامه اړيکو رياست
د اطـــــــلاعاتو آمــــــــريت

اوونۍ راستنېدنه
هفته نامه عودت



۸۴ مه گڼه،لېندی۱۴۰۴:لومړی مخ/ شماره ۸۴ قوس ۱۴۰۴:صفحه اول


## د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزير محترم مولوي عبدالکبير د افغان دارالعلوم او د دارالاحناف د مدرسې له مهتميمنو سره وکتل

په دې ناسته کې حاضرو مهتميمنو د پخوا په پرتله په ديني مدرسو کې د درس د کيفيت له لوړېدو يادونه وکړه او ويې ويل، چې د هېواد ديني مدرسې په ښو اسانتياوو سمبال شوې دي.

د افغان دارالعلوم مهتميم مولوي عبدالحي زياته کړه چې د اسلامي امارت په هڅو هر کال د پوهنتونونو تر څنگ، زرگونه ځوانان له ديني مرکزونو فارغ او ټولنې ته د خدمت لپاره وړاندې کېږي.

همدارنگه د دارالاحناف د مدرسې مهتميم شيخ عبدالحق د مدرسو د غوره فعاليت لپاره د حکومت ملاتړ ارزښتمن وباله او پر وينا يې چې د اسلامي امارت اړوندې اداري له ښوونيزو بنسټونو سره د پام وړ همکارۍ او اړيکې لري او ټولې چارې په مسلکي ډول مخکې روانې دي.

د ناستې په پای کې راغلو مهتميمنو د ځينو اړوندو چارو په اړه خپل وړانديزونه له محترم وزير سره شريک کړل.

محترم مولوي عبدالکبير راغليو علمای کرامو ته ښه راغلاست وويل او هېواد ته د خدمت په برخه کې يې د مدرسو او ديني بنسټونو هڅې وستايلې.

محترم وزير د ديني مدرسو او نورو تعليمي بنسټونو قربانۍ د تاريخ مهمه برخه وبلله او پر وينا يې چې اسلامي نظام له ټولو تعليمي او تحصيلي ادارو څخه ملاتړ کوي.

د ناستې پر دوام محترم مولوي عبدالکبير له مدرسو سره همکاري خپل مسووليت ياد کړ او ډاډ يې څرگند کړ، چې شريکو شويو موضوع گانو ته رسېدنه کېږي.



## د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزير محترم مولوي عبدالکبير د پکتيا د جهادي مدرسې له مهتمم شيخ طالب جان او څو تنو استادانو سره وکتل

په دې ناسته کې، چې د جهادي مدرسو د فعاليت او لاسته راوړنو په اړه خبرې وشوې، ښاغلي شيخ طالب جان وويل: جهادي مدرسې توانېدلې، چې په لنډه موده کې ښه پرمختگونه وکړي او ځوانانو ته تر لوړې کچې د زده کړو فرصتونه برابر کړي.

ښاغلي شيخ طالب جان له ښوونيزو بنسټونو څخه د اسلامي امارت ملاتړ د مدرسو د اغېزمن فعاليت لپاره مهم ياد کړ او پر وينا يې چې هر کال د جهادي مدرسو د طلباوو په شمېر کې زياتوالی راځي.

د ناستې پر دوام د پکتيا د جهادي مدرسې مهتمم له محترم وزير سره ځينې وړانديزونه شريک کړل.

محترم مولوي عبدالکبير د پکتيا د جهادي مدرسې مهتمم او استادانو ته ښه راغلاست وويل او د جهادي مدرسو فعاليتونه يې گټور وبلل.

محترم وزير د اسلامي نظام دندو ته په اشارې سره يادونه وکړه، چې اسلامي امارت د ديني او عصري علومو پراختيا ته ژمن دی او خپل امکانات له ښوونيزو بنسټونو نه سمپوي. د ناستې په پای کې محترم وزير شريکو شويو وړانديزونو ته د رسېدنې يادونه وکړه.



## وزير امور مهاجرين، با والی ولايت پکتيا ملاقات نمود

محترم مولوی عبدالکبير وزير امور مهاجرين و عودت کنندگان با مولوی مهرالله حماد والی ولايت پکتيا ملاقات کرد.

محترم حماد در مورد وضعيت و مشکلات عودت کنندگان در پکتيا به محترم مولوی عبدالکبير معلومات داده افزود: قبل از فرا رسيدن زمستان، وضعيت زندگی عودت کنندگان در چندين ولسوالی از جمله مرکز گرديز ارزيابی و نيازمندی های آنها مشخص شده است.

وی ضمن ارائه پيشنهاداتی برای حل مشکلات عودت‌کنندگان درآن ولايت، گفت: عودت‌کنندگان در پکتيا به مواد غذايی، لباس زمستانی، خيمه و پول نقد نياز دارند.

ايشان همچنين پيشنهاداتی را برای رسيدگی به موقع به مشکلات مهاجرين ارائه کرد.

محترم مولوی عبدالکبير ضمن خوشامدگويی به والی ولايت پکتيا، از تلاش‌های ايشان در رسيدگی به مشکلات عودت‌کنندگان و بيجاشدگان داخلی تقدير کرد.

وزير محترم امور مهاجرين اظهار داشت: قبل از فرا رسيدن زمستان، وزارت امور مهاجرين يک سلسله کمک‌ها را به برخی از عودت‌کنندگان بی‌بضاعت آغاز کرده و در مناطق باقيمانده نيز اجرا خواهد شد.

محترم مولوی عبدالکبير خاطرنشان کرد که خيمه و کمپل به طور فوری به پکتيا ارسال خواهد شد و همچنين با ادارات مربوطه برای ارائه کمک‌های غذايی و نقدی هماهنگی خواهد شد.



## وزير امور مهاجرين با بزرگان قومی برخی ولسوالی های ولايات پکتيکا و خوست ديدار کرد

محترم مولوی عبدالکبير وزير امور مهاجرين و عودت کنندگان با بزرگان قومی برخی و لسوالی های ولايات پکتيکا و خوست، در دفتر کارش ديدار کرد.

آنان، ضمن قدردانی ازهمکاری وزير امور مهاجرين گفتند: به دليل اجابت پيشنهادات مردم توسط امارت اسلامی، برخی از مشکلات مردم حل شده و انتظار می‌رود که به ساير کاستی‌ها نيز رسيدگی شود.

بزرگان قومی و لسوالی های گيان، سپيری، نکی، زيروک و ارگون با ارايه پيشنهادات شان، از فراهم کردن يک مرکز بهداشتی و انتقال هيزم خشک مورد نياز برای هموطنان در حال بازگشت نام برده گفتند: امارت اسلامی پيشنهاد ساخت جاده (سرک) در مناطق آنها را تصويب کرده است که با ساخت آن بسياری از مشکلات مردم حل خواهد شد.

محترم مولوی عبدالکبير از بزرگان قومی استقبال کرده و مسئوليت آنها را در قبال خدمت به مردم يادآوری کرده با اشاره به برنامه توسعه‌ای دولت، خاطرنشان کرد که امارت اسلامی به پيشنهادات و نيازهای مردم اولويت می‌دهد و دور از انتظار نيست که به هر مشکل مردم رسيدگی شود.

محترم وزير امور مهاجرين به آنان اطمينان همکاری داده گفت: برای برآورده کردن خواسته‌های مردم تلاش خواهد کرد و در صورت لزوم، پيشنهادات را با مقامات امارت اسلامی در ميان خواهند گذاشت.



اونیزه راستنېدنه
هفته نامه عودت

۸۴ مه گنه،لیندی۱۴۰۴:دویم مخ/ شماره ۸۴ قوس ۱۴۰۴:صفحه دوم

## د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزیر محترم مولوي عبدالکبیر د بغلان د گجر مجاهدینو د ډلگیو له مشرانو سره وکتل

په دې ناسته کې حاضرو ډلگیو مشرانو او مجاهدینو د اسلامي نظام په لیکو کې خدمت ویاړ وباله او ویې ویل، چې د اسلامي امارت تر چتر لاندې به د افغانستان خدمت کوي.

دغو مجاهدینو بغلان ته د ورستنو شویو هېوادوالو پر اړتیاوو خبرې وکړې او د کډوالو په سیمه کې یې پاکو اوبو ته د لاس رسي وړاندیز شریک کړ او زیاته یې کړه، چې د اسلامي امارت اړوندې ادارې دې د کاري فرصتونو په موخه په بغلان کې ځینې پراختیایي چارې پیل کړي.

محترم مولوي عبدالکبیر یادو ډلگیو مشرانو ته ښه راغلاست وویل او د اسلامي نظام په ساتنه کې یې د مجاهدینو او ولس د هڅو ستاینه وکړه.

محترم وزیر زیاته کړه، چې په بغلان کې د راستنو شویو د ستونزو حل ته به توجه وشي او یادونه یې وکړه، چې اسلامي امارت د راستنو شویو لپاره اړتیا وړ امکانات ځانگړي کړي دي.



## دو تفاهم نامه همکاری در وزارت امور مهاجرین به امضا رسید

به ارزش ۴۱۹ هزار و ۵۳۸ دالر امریکایی، دو تفاهم نامه همکاری میان موسسات خدمات اجتماعی زنان افغانستان و بین المللی هیات ناروی برای مهاجرین و وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان به امضا رسید.

به اساس تفاهم نامه های عقد شده، مبالغ در بخش مدیریت قضایا ،مشوره دهی ،توزیع بسته های بهداشتی وخدمات ارجاع برای ۳۵۷۱ تن بیجاشده ، برگشت کننده وجامعه میزبان در ولایت هرات وفاریاب به مصرف خواهند رسید .



## د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزیر محترم مولوي عبدالکبیر د پکتیا ولایت د جهادي مدرسې په فراغت غونډه کې گډون او وینا وکړه

محترم مولوي عبدالکبیر پکتیا ولایت ته د سفر په ترڅ کې د جهادي مدرسې د حدیثو د لوېې دورې په فراغت غونډه کې د وینا پر مهال په هېواد کې پراخ امن د اسلامي نظام لاسته راوړنه وبلله او د اسلامي امارت واکمني یې د افغان ولس لویه هیله یاده کړه.

محترم وزیر زیاته کړه، چې تر شل کلنۍ مبارزې وروسته، چې مهم هدف د اشغال خاتمه او د اسلامي نظام قیام و، الحمد الله دواړه موخې ترلاسه شوې دي.

ښاغلي وزیر د هېواد په گوټ گوټ کې د دیني زده کړو د اسانتیاوو برابرول د اسلامي امارت مهم خدمت وباله او زیاته یې کړه، چې افغانان له هېواد بهر د دیني زده کړو لپاره سفر ته اړ نه دي.

محترم مولوي عبدالکبیر د اشغالگرو د تېریو له امله مهاجرت ته په اشارې وویل، چې افغانانو د اسلامي ارزښتونو او افغاني عنعناتو د خوندي ساتلو لپاره د خپلو سرونو او مالونو قرباني ورکړه او مهاجرت ته اړ شول.

محترم وزیر پر نړیوالو او گاونډیو هېوادونو غږ وکړ، چې له مهاجرینو سره له زور زیاتي ډډه وکړي او اجازه دې ورکړي، چې په داوطلبانه ډول خپل هېواد ته راستانه شي.

ښاغلی وزیر د کونړ په زلزله کې د هېوادوالو مرستو ته په اشارې سره د افغانانو د خپلمنځي یووالی ستاینه وکړه او د هېواد د پرمختگ لپاره یې د هغوی یو موټي کېدل اړین وبلل.

محترم وزیر د وینا په پای کې یو ځل بیا فارغو شویو ځوانانو ته مبارکي وویله او یادونه یې وکړه، چې افغان ولس روزل شویو ځوانانو ته اړتیا لري.



## تر ۲۰۰ زیات افغان مهاجرین د عراق او پاکستان له بندخونو ازاد او هېواد راستانه شول

روانه اونۍ د عراق او پاکستان له بندخونو ۲۲۸ تنه بندي افغان مهاجرین ازاد او هېواد ته راستانه شول .

د کندهار او نیمروز ولایتونو د مهاجرینو ریاستونو د لېږد امریتونو د معلوماتو له مخې، د سپین بولدک له لارې ۲۲۴ افغان مهاجرین، چې دوه میاشتې یې د پاکستان په بندخونو کې تېرې کړې وې او څلور تنه د نیمروز له لارې چې درې میاشتې یې د عراق په بندخونو کې تېرې کړې وې ازاد او هېواد ته راستانه شول.

دغو کسانو د سپین بولدک او نیمروز د د لېږد امریتونو کې تر ثبت وروسته د دې وزارت همکارو بنسټونو له لوري مرستې تر لاسه او خپلو اصلي سیمو ته ولېږدول شو.

## بیش از هزار خانواده در ۳ ولایت کمک های بشری دریافت نمودند

برای ۱۱۵۴ خانواده بیجاشده، برگشت کننده، نیازمند و متضرر ناشی از حوادث طبیعی در ولایات ننگرهار، سرپل پکتیا، کمک های نقدی، خوراکی، کمپل، خیمه و و سایل آشپزخانه، در هفته روان توزیع شد.

طبق گزارشات واصله از ولایات، برای ۸۱۶ خانواده در پکتیا ۴ قلم مواد خوراکی، کمپل، خیمه و مبلغ یک میلیون و ۵۰۰ هزار افغانی، برای ۳۸ خانواده در سرپل ۲ قلم مواد خوراکی و مبلغ ۵۷ هزار افغانی، برای ۳۰۰ خانواده در ننگرهار ۴ قلم مواد خوراکی، ۴ تخته کمپل و بسته وسایل آشپزخانه کمک نهاد های همکار این وزارت پس از شناسایی آنان، توزیع شد.

همچنان، برای ۶۰ تن اطفال زیر سن ۱۸ سال در ولایت فراه مبلغ ۷۹۶ هزار و ۲۰۰ افغانی، ۳۳۶ تن در ارزگان مبلغ ۵۰۴ هزار افغانی نیز کمک نهاد های همکار این وزارت بود که افراد متذکره آن را پس از شناسایی بدست آوردند.

